د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پاڼه: www.unama-afg.org

رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

**منوج بسنیات د ملګرو ملتونو د پراختیایی اداره مشر په افغانستان کی**
**داکتر نیلاب مبارز د یوناما د ویاند د دفتر څخه**

*کابل- د اکتوبر د میاشتی ۲۰ نیټه کال ۲۰۰۸*

**یوناما:** سهار مو په خیر، زه نیلاب مبارز تاسو ټولو ته ښه راغلاست وایم. زموږ د ننی کنفرانس میلمه ښاغلی منوج بسنیات د ملګرو ملتونو د پراختیایی اداری مشر په افغانستان کی دی چی تاسو ته به په افغانستان کی د بیوزلی په اړه معلومات درکړي خو مخکی له هغی غواړم چی یو څو لنډ ټکی تاسو ته وړاندی کړم. او وروسته د هغی به ستاسو پوښتنو ته ځواب ووایو.

## په جلال آباد کې د ځوانانو کنفرانس

د ملګرو ملتونو د پرمختیايي پروګرام دفتر او د ځوانانو د چارو د وزارت مرستيال د ننګرهار ولايت د جلال آباد په ښار کې د روان کال د اکتوبر د مياشتي په ۲۱ نېټه د ځوانانو يو ورځني کنفرانس لاري ته اچوي.

په دې کنفرانس کې به د ځوانانو د شوراګانو او د بيلا بيلو ولايتونو، د مدني ټولنو د ځوانانو د ۳۲ استازيو او د هيواد د شرقي سيمو د لغمان، کنړ او نورستان د ولايتونو څخه (څلور ګډون کوونکي) په دې کنفراس کې ګډون وکړي. د دې کار موخه دا ده چې د ځوانانو د ګډ ملي پرورګرام سره هغوي اشنا کړي او همدارنګه د مدني ټولنې د سازمانونو، ځوانانو د شوراګانو او حکومت تر منځ هماهنګي رامنځ ته کړي. د ټولنو پر بنسټ د ځوانانو د نوښتونو ملاتړ وکړي او د حکومت کولو په چارو کې د ځوانانو ملکي او سياسي ګډون، د مدني ټولنې پياوړتيا، د جنسيت د چارو د برابري څخه ډاډ حاصل کړي او همدارنګه په ولايتونو کې د ځوانانو سره مرسته وکړي او هغوي مرکزي حکومت ته نږدې کړي.

## رسنی د شمال ختیځ افغانستان څخه لیدنه کوي

موږ غواړو تاسو ته معلومات درکړو چي یوناما د نړیوال خوراکي پروګرام، د ملګرو ملتونو د پراختیا اداره، د ملګرو ملتونو د خوراک او کرهنی اداره او د ملګرو ملتونو د ماین پاکولو د اداری سره یو ځای د کندز، بغلان او تخار ولایتونو ته د همدې ماسپښین وروسته د رسنیو د پنځه ورځنی سفر امکانات برابرکړو. هلته به ددي امکانات وي چي په شمال ختيځ کي د دول، دول پروژو څخه ليدنه وکړي او فلم واخلي. هغوي چي غواړي ګډون وکړي کولای شي د دې کنفرانس وروسته موږ سره وګوري.

## د ملګرو متلونو د پرمختایي پروګروم د وینا ټکي

د ټولو سهار دې په خیر وي. دا د خوښی ځای دی چي زه نن دلته یم دا د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام د هیواد د مشر په توګه زما لومړی مطبوعاتي کنفرانس دی او زه غواړم چي له تاسي سره په منظمه توګه دلته و اوسم او تاسي ته زموږ د فعالیتونو په باره کي تازه معلومات درکړم او ستاسو پوښتونو ته ځوابونه و وایم.

نن زه غواړم چي چي د غربت یا بیوزلی په باب خبري وکړم. موږ ټول پر دې پوهیږو چي افغانستان له سختي بیوزلی څخه ځوریږي. په حقیقت کي زه باور لرم بیوزلي نن ورځ د افغانستان تر ټولو ستره ستونزه ده.

افغانستان په نړۍ کې یو له خورا نیستمنو هیوادونو څخه دی چې د غربت کچه یې ۴۲ سلنه ده او نور ۲۰ سلنه وګړي ایله د غربت د کرښې د پاسه ژوند کوي. ۷۰ په سلو کې افغانان همدارنګه د خوړو له نا خوندیتوب سره مخامخ دي.

۲۰ سلینه کلیوالي کورنی په وقفوي توګه د خوړو له کمښت سره مخامخ دي او په ۱۰۰ کې ۱۸ نور د خوړو د موسمي کمښت سره مخامخ دي. ۲۰ تر ۴۰ فیصده افغانان د کال په بیلا بیلو وختونو کې د خوړو بیلا بیلو سطحو مرستو ته اړ دي. د غربت کچې په للمي سیمو کې لوړې دي، چې هلته ۶۵ سلنه کورنی د خوړو له ناخوندیتوب سره مخامخ دي.

د خوړو د بیو لوړوالی، د نړیوال اقتصاد زوال، د اقلیم د بدلون اغیزې، کمزوری حکومت کول او د وسلوالي شخړې شدت دا ټول یو ځایي لا ډیر افغانان د بیوسه خوارانو د لیکو په لور ور ټیل وهي. بې وزله وګړي پاکو اوبو او روغتیا پالنې، پوره اندازه خوړو، استوګنځي او نورو هغو اساسي شیانو ته چې د یو ابرومندانه ژوند لپاره بنسټیز بلل کیږي، محدود لاس رسی لري.

په افغانستان کې بیوزلی ډیر لاملونه لري. د دغو شیانو په ګډون: د ټیټې کچې سواد، کمزورې روغتیا پالنه، د طبیعي زیرمو ناوړه مدریت او ټولنیز جوړښتونه، چې د خاصو ډلو او ټولنو په تاوان دی. لاکن غربت حتمی نه دی خو دا د هغې لارې انعکاس دی چې ټولنې تنظیم شوي او منابع ویشل شوي.

افغانستان اوس یوه مهمې څلور لارې ده او ډیر په دې پورې اړه لري چې د هغو غربت کموونکو کلیدي موخو سره پرمختګ وشي چې هغه د افغانستان د ملي پراختیا د ستراتیژۍ یوه برخه ده.

اوس د دې وخت دی چې هغه ژمنې چې د افغانستان د حکومت او نړیوالو شریکانو له خوا شوې دي په څرګندو حقیقتونو بدلې شي، څو په دې ترتیب ماشومان و کولای شي زده کوونکي شي، لیږ میندې د ماشوم په زیږون کې ومرې، د ښځینه سرپرستو کورنۍ و کولای شي خپلې کورنۍ سره یو ځای کړي او ډیرې وظیفې کیدای شي چې منځ ته راوړل شي.

وزګارتیا لا دوام لري، په خاص ډول په کلیوالي سیمو کې او همدارنګه د زیانمنیدونکو ډلو تر منځ، چې دا د عمومي انساني امنیت او د هیواد د پراختیا لپاره د یو ستر خنډ په توګه لا پاتې دی.

په سیمه بیزه کچه د پرمختیا ملي پروګرام د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام یوه برخه ده چې موخه یې د هیواد په داسې ځانګړو سیمو باندې تمرکز کول دي چې ډیر زیانمونکي دي.

په ۳۴ ولایتونو کې د ولسوالیو د پرمختیا د ۳۰۶ شوراګانو جوړیدنه چې د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا د وزارت سره به یو ځای ترسره شوې ده موږ د کلیو د پرمختیا د بهیرونو په چاره کې په پوره او څرګنده توګه د ټولنې د مشاورت او د کلیو د وګړو د مشارکت د باوري کولو لپاره کار کړی دی او کوو یې.

په دغه کچه د ټولنې مشاروت د بریالیتوب کیلی ده. موږ باید په بنسټیزه کچه تمرکز ولرو او د دې مانا دا ده چې دغه کار باید د هیواد په هره ولسوالۍ کې ترسره شي. د ولسوالیو د پرمختیا اسمبلې باید د ولسوالیو د کچې پرمختیایي پلانونه ولري چې په کې د کلیو د پرمختیا پروژو لومړیتوبونه فهرست کړای شوی وي.

زه غواړم چې یو څه د کندهار د ماډل په اړه وغږیږم. دا هغه نمونه او ماډل دی چې د هغه څخه د کلیو د ټولنو په کچه کار اخلو، چې دا موږ د دې کار امکانات راکوي چې په هغو سیمو کې بنسټیزې زیربنایي پروژې پلې کړو چې پخوا د پرمختیایي چارو لپاره نا امنه فکر کیدلې. دا کار اوس په نورو ولایتونو کې د کندهار سربیره پیل شوی دی چې په کې هلمند، اروزګان او ننګرهار شامل دي.

د کلیو پرمختیایي شوراګانو او د ولسوالیو پرمختیایي اسمبلې د دې ثبوت ورکړی چې د کار ځواکمنتیا لري چې په تخنیکي لحاظ ساده زیربنایي پروژې په اغیزمنه توګه جوړې کړي، دلته باید محلي وګړو ته یو څه امتیاز او د کار زیاتې ضروري ورځې ورکړای شي.

کوچنی او د منځنۍ کچې د تشبثاتو او تجارت سره په بلخ، بامیانو او هرات کې ملاتړ شوی دی. هغوی ته د وړیا پورونو، کاروباري پلانونو، او نورو تخنیکي مسالو په اړه مشورې ورکړای شوی دی. دغه ډول مشابه کار د منځنۍ کچې د کاروبار او تجارت لپاره په کندهار، ننګرهار، بدخشان، غزنی، پکتیا، کنړ او نیمروز کې هم نږدې وختونو کې پیل کیږي.

په سیمه بیزه کچه د پرمختیا ملي پروګرام د هغو اړتیاوو پر بنسټ دی چې د ولسوالیو د دې پرمختیایي پروګرامونو له مخې یې یادونه شوې ده د ۲۰۰۶ کال څخه وروسته د ۵۲۰ کلیوالو زیربنایي پلانونو د بشپړتیا خبر ورکړی شوی دی. په دغو پروژو کې د اوبه خور سیستمونه، سړکونه، ښوونځي، کلینیکونه، پلونه، د ټولنیزو غونډو مرکزونه او استنادي دیوالونه شامل دي.
همدا مهال ۳۴۵ پروژې رواني دي، او نږدې ۳۵۰ پروژې همدا اوس سروې شوې دی او د پلي کولو طرحه یې وړاندې شوې ده. د ټولو هغو کلیوالو شمیره چې کیدلای شي د دغو زیربنایي پروژو څخه ګټه واخلي د ۲،۵ میلیونو په خواو شا کې دي.
دغه پروژې په هیواد کې د افغاني وګړو په ژوند کې واقعي بدلون منځته راوړي.
په دې توګه د نتیجې په ډول هغه ننګوني او چیلنجونه ډیر دي چې موږ ټول ور باندې پوهیږو. خو همدا اوس موږ کولای شو چې افغانستان د دغه ځای څخه چې د څلورو ډیرو بې وزلو او غریبو هیوادونو په کتار کې دی په ګډ کار سره راوباسو. او مو ږته په کار ده چې د ولسوالۍ د کچې پیل وکړو.

زه همدارنګه د دې فرصت څخه په استفادې سره غواړم چې د افغانستان د حکومت او نورو موسسو سره د ملګرو ملتونو د پرمختیايي پروګرام غړ شریک کړم چې د وروستنی غوښتني تمویل او په دې توګه خوراکي خوندیتوب تضمین کړای شی. د دغي غوښتني لپاره اوس هم کمي پیسي برابر شوي دي او ژمي په چټکی سره را روان دی.
ستاسي د وخت څخه مننه اوس زه ستاسي پوښتنو ته ځواب کولو ته چمتو یم.

**د پوښتنو او ځوابونو برخه:**

**ایرین:** ما واوریدل چي تاسو وویل چي افغانستان څلورم خورا نیستمن هیواد دی- د ۲۰۰۷ د ملي بشري پراختیا رپوټ له مخي افغانستان پنځم خورا نیستمن هیواد وو. آیا په یوه کال کي افغانستان څلورم خورا نیستمن هیواد څخه پنځم ته په شا تللی دی؟
**د ملګرو ملتونو د پراختیا اداره:** په دې اړه چي آیا افغانستان په کومه خورا نیستمنه یا لږ پر مختللی درجه کي راځي بیلا بیل اټکلونه دی. نو موږ باید د دغي اصطلاح په کارولو کي ډیر محتاط و اوسو. خو زه فکر کوم چي دلته موضوع د غربت را کمول دی نو له دې کبله اوضاع ډیره جدي ده. نو دا هڅي لکه د ملی ساحي پر اساس پراختیايي پروګرام، دا یوه امید بخښونکی لاره ده او هغه لاره ده چي ثابته شوی ده. زه د کندهار د ماډل مثال استعمالوم، خو د هیواد په نورو برخو کي هم هڅي رواني دي. هغه ټینګار چي ما غوښتل و وایم څرنګه موږ دغه لاري په کر اچولی شو چي په افغانستان کي ثابتي شوي دي او افغانان یې مشري کوي او پخپله یې تطبیقوي چي په دې توګه موږ د غربت له جدي حالت څخه را وباسي.

**افغانستان ټایمز:** تاسي ویلی دي چي ۴۰ ٪ خلک د خوړو فوري مرستي ته اړتیا لري. آیا هغوي بهرنیو مرستو ته اړتیا لري؟ او څرنګه چي ژمي ډیر ژر را رسیږي، آیا هغوي به دا مرستي په وخت تر لاسه کړي؟
**د ملګرو ملتونو د پراختیا اداره:** د خوړو خوندیتوب یوه ستره ستونزه ده او زه فکر کوم چي له دغو موضوع ګانو سره هم په نړیواله او هم په داخلي کچه کار روان دی. غبرګونونه غوښتل شوی دی او افغانستان واقعا سخت ژمی لري او کولای شي هغو کورنیو ته چي د خوړ خوندیتوب نه لری، لا زیاتي ستونزې پیښي کړي،

هو ژمی را روان او د افغانستان د خلکو یوه وروستی برخه د خوړو له نا خوندیتوب سره مخامخ ده او بې له شکه په بحثونو کي چي موږ خپله د افغانستان له دولت سره درلودلی دی. هم په ملي او هم بین المللی سطحه د مرستي غړ شوی دی چي د خوړو ضروري ایجابات پوره شي. دا پروسه روانه ده او له همدې کبله ده چي ما هم په خپلو ویناګانو کي غړ کړی دی چي تاسو هم پوهیږي چي ډیري مرستي ته اړتیا ده. او دا به د ستاینې وړ وي هم د ملګرو ملتونو له نمایندګیو څخه او هم له نورو څخه چي که چیرې د خوړو د اړتیا دغه ستونزه حل کړی شي.

**ایرنا:** د کندهار د ماډل په اړه زه غواړم پوه شم چې تر کومه حده هغه د اساسي موخو ځواب ویلای شي؟ لکه چې په افغانستان کې د ټولنیز اقتصادي او حتی د سیاسي ژوند په اړه شباهتونه شته. د بیلګې په ډول که په عمومي صورت سره د کندهار وګړي بې وزلی دی نو همدغه شان حالت په بدخشان کې هم دی.

**د ملګرو ملتونو د پراختیا اداره:** د کندهار ماډل دکلیوالو ټولنو د شوراګانو د ظرفیت په جوړولو کې کار ورکوي. د دې سربیره موږ په کلیو کې د وګړو سره کار کوو. په کلیو کې تاسو امنیتي او د پرمختیا په اړه اندیښني لرئ، نو څنګه د هغو کلیو خلک منظم کړای شي او ورسره مرسته وشي چې دغه پروژې پلي کړي. زه فکر کوم دا منل شوې ده چې دغه پروسې کار ورکړی دی او خلک په دې توانیدلی دی چې د ځینو زیربنایي پروژو مسوولیت په غاړه واخلي. دغه ډول د کار د طرز څخه د افغانستان په نورو سیمو کې هم کیدلای شي کار واخیستل شي. د افغانستان په نورو سیمو کې د کار باوري طرزونه موږ د امنیت او پرمختیا د مسالو سره په تړاو کې راولو. موږ هڅه کوو چې دغه ډول د کار طرزونه او طریقې د افغانستان په نورو سیمو کې چیرته چې د کندهار په ډول شرایط دي او د افغانستان په نورو سیمو کې د کندهار تجربه هم د پلی کیدو وړ ده دغه ډول کار ترسره شي.
په دې طریقه د کلیو د بیا رغوني او پراختیا وزارت، د دغه ملاتړ مشرتوب لري او هغه همدارنګه د ولسوالیو د شوراګانو د ظرفیت د لوړولو لپاره کار کوي، هغه پلانونه چې ډیر ضروري او د کلیو د خلکو د اړتیاوو ته ځواب وایې جوړوي. دا هغه څه دي چې د کلیو خلک د دغو پروژو مدیریت په غاړه اخلي. دا زیاتره په محلي مالکیت، مشرتابه او تر ټولو زیات د افغانستان د حکومت په رهبرئ پورې تړاو لری.

موږ ډیر خوښ یو چې دغو طریقو کار ورکړي دی او غواړو چې د کلیو د بیا رغوني او پراختیا د وزارت د هغو هڅو ملاتړ وکړو چې د ولسوالیو د اسمبلیو د جوړولو په برخه کې یې ترسره کوي چې په دې توګه ښې نتیجې ور څخه په لاس راشي. د دې سربیره د دغه ډول کار په نتیجه کې د کارونو او عوایدو د زیاتیدو امکانات رامنځته کیږي. دا پر کورنیو ښه اغیزه کوي او د هغوی اقتصادي معیشت او د کلیوالو ټولنو عمومي اقتصادي حالت ورسره ښه کیږي.

**دآریانا ټلویزیون:** هغې شمېرې چې تاسي نن یادونه وکړه – د نړیوال خوراکی پروګرام (دبلیو اف پي) له خوا هم ذکر شوې وو، خو د افغانستان حکومت دا ردوي – او وايي چې د بې وزلۍ تر کرښې لاندې د خلکو شمېره تر کومې اندازې چې د ملګرو ملتونو له خوا یاده شوې وه، ټیټه ده؟

**د ملګرو ملتونو د پراختیا اداره:** زما په نظر دلته د هغو احصائیو په اړه راز راز تحلیلونه تر سره کیږي. خو مونږ باید په احصائیوي اړخ باندې ټینګار و نه کړو. په افغانستان کې نن سبا خلک په یو ډول نه په یو ډول له فقر او نیستمنۍ سره مخامخ دي. او په افغانستان کې ډیری خلک د خوارو د نه مصؤنیت سره به مخامخ وي. زه هیله من یم چې مونږ به په دې وتوانیږو چې یوازې د بې وزلۍ پر مسئله او پر دې مسله چې په افغانستان کې مونږ څرنګه کولای شو چې د بې وزلۍ او خوارئ کچه ټیټه کړو، ټینګار وکړو. ځکه چې دغه موضوع نور ډیر اړخونه لري، لکه د امنیت خوندي کول او د امنیتي ځواکونو پیاوړی کول. زه غواړم چې په دې ټکی

باندي ټينګار وکړم چې د لومړيتوبونو د رسيدګۍ په هکله مونږ او د افغانستان حکومت، سره ډير ګډ او ورته دريځ لرو. مونږ له افغانستان حکومت سره په دې موضوع تفاهم لرو چې د نورو لومړيتوبونو سره په موازی ډول د خواری او بې وزلی سره هم بايد مبارزه وشي. د نورو موضوعاتو په اړه لکه دا چې مونږ څرنګه کولای شو چې د افغانستان له حکومت سره په شريکه کار وکړو، زه ويلای شم چې په حقيقت کې، مونږ د افغانستان د حکومت تر مشرۍ لاندې کار کوو، او هڅه کوو چې د دغو پانګو په ګټې اخيستلو سره افغانستان خلکو ته د دندو، کارموندني، او د عايداتو د لاسته راوړني زمينې برابری کړو، تر څو خلک پخپل کورنی، کلپوال، او د خپل د ولسوالی په اقتصادی چارو کې مثبت بدلون محسوس کړي. دغه موضوع ډيره مهمه ده، او په دې چې يو ان دي پي څه کوي، او دبليو اف پي څه کوي او لومړيوتوبونه کومې دي هيڅ ډول اختلاف نشته.

**د طلوع تلويزيون:** د حکومت او نړيوالي ټولني څه تاسي د مرستي غوښتني کړې دي. هغه بودجه چې افغانستان نه ده چمتو کړې څو دغه مرستې ترسره شي څومره ده؟

**د ملګرو ملتونو د پراختيا اداره:** د خوارو د عدم مصونيت موضوع پوره جوته ده او د دې لپاره په نړيواله کچه غوښتنه شوې ده. د هغو رپوټونو له مخې چې موږ يې لرو لا زياتو مرستو ته اړتيا ده او په دې برخه کې زيات ملاتړ لرو. د افغانستان دولت دي ته زيات ژمن دی نو ځکه زه فکر نه کوم چې د افغانستان د حکومت په اړه څه پوښتنه وي. په دې توګه لا ډيرې مرستې ته اړتيا ده، چې دغو اړتياوو ته ځواب ووايو. د بودجو په اړه زه همدا اوس هغه د ځان سره نه لرم او که چيرې تاسو غواړئ نو وروسته به معلومات در کړی شم.

**يوناما:** زه غواړم تاسو ته ددې يادونه وکړم چې د مرستې لپاره د افغانستان د دولتی او د ملګرو ملتونو د موسسو له خوا ګډه غوښتنه شوې وه. موږ باور لرو چې دغه ژمنې تر سره شی چې د مرستو په اړه نه دي پوره شو. هغه پيسې چې د دغې غوښتنې له مخې په کار دي ۴۰۴ ميليونه ډالرو ته رسيږي.

**سبا تلويزيون:** د افغانستان د راتلونکی ژمی او د داسې ستونزو لکه غريبې، بې کاری او نا امنی په اړه چې هيواد ورسره لاس و ګريوان دی اندیښنې څرګندې کړې، آيا تاسو فکر نه کوې چې يوه بشري ستونزه ممکنه ده؟

**د ملګرو ملتونو د پراختيا اداره:** زه فکر کوم چې ټوله غوښتنه او ټولې هڅې ددې لپاره ترسره شوې چې د هغو ستونزو کچه را ټيټه کړي د کومو سره چې هيواد لاس او ګريوان دي. د دې لپاره چې ستاسو پوښتنې ته ځواب وويل شي، او هغو کوښښونو ته چې ټول سازمانونه لکه حکومت او نړيواله ټولنې ته خوشبينې وربښي او د خوراکي مصونيت وضيعت د ژمی پر مهال تنظيم کوي او داډ حاصل شي چې حکومت او نړيواله ټولنه دې مسلې ته ځواب وايي. زه هيله کوم چې پايلې به مثبتې وي. زه به اوس د غريبی او بې کاری په هکله خبرې وکړم، موږ ټول د يو ان دی پي په شمول دې کار ته ژمن يو، موږ دخپلو بيلا بيلو پروژو له طريقه د سيمو پر بنسټ د پروژو په شمول هر کار ته تيار يو. که څه هم چې په ژمی کې به د ظرفيت د جوړولو له لارې د مرستو برابرول د هڅو له لارې ستومن کار وي او همدارنګه بايد ډاډ حاصل شي چې په ستونزمنو شرايطو کې بايد خلک مرستو ته لاس رسي ولري که څه هم چې دا مرستې په ژمی کې برابرې شي. ښه کار

به دا وي چي دا مرستې د حکومت له خوا پر مخ بوړل شي، که چیرې دا مرستې د ټولنو له خو څه پر مخ بوړل شي، هغوي به سرچینو ته لاس رسي پیدا کړي او کولای شي خپل پرمختګ په خپله پلان او تنظیم کړي. د هغه موډل په هکله چي موږ خبرې کو هغه د سیمې پر بنسټ د پراختیا موډل دی، او له دې لارې کیدای شي ځینو مهمو مسلو ته ځواب وویل شي. کیدای شي دا موډل د ټولو ستونزو په هکله ځواب ارایه نه کړي، دا موډل باید د دې هڅو په هکله زیاتې هڅې لارې ته واچوي ترڅو موږ په دې ستونزو غالب شو.

**زینهوا:** کیدای شی تاسو د افغانستان د وګړو په هکله چي د غریبي د کرښي څخه ټیټ ژوند کوي، معلومات راکړئ، یوان ډې پي څرنګه دا د افغاستنان د تیر کال سره پرتله کوي؟

**د ملګرو ملتونو د پراختیا اداره:** د دقیقو شمیرو په حواله، پوهیږو چي د افغانستان ۴۲ ٪ وګړي د غریبي ورته ستونزو سره لاس او ګرویان دی. که اوس موږ د دی مسلې د غذا د مصونیت اړخ په پام کې ونیسو، نو بیا نږدې ۵ میلیونه افغانان د غذایي مصونیت د مسلو سره مخ دي. زه هیله کوم چي دا معلومات د غریبی او غذایي نه مصونیت په هکله بسنه وکړي. اوس چي موږ د شمیرنو په هکله خبرې وکړي، تاسو د غریبی د کچې د اهمیت په راټیټولو پوه شوی، د غریبی د کچې راکمول افغانانو ته د زیاتې سوکالی د راوستلو الهام ورکوي. په خاص ډول په کلیواو او شهري سیمو کې او دا به په افغانستان کې د بیلا بیلو امنیتي وضعیتونو سره ارتباط ولري.

**یوناما:** نږدې ۲۰ ٪ افغانان د غذایي نه مصونیت د ستونزو سره مخامخ دي او څه نا څه ۱۸ ٪ افغانان د غذا د موسمي کمښت سره مخامخ دي چي په ټولیز ډول ۴۰ ٪ وګړي جوړوي او د ارقام د ۲۰ میلیونو وګړو د ارقامو سره برابر نه دي. موږ ویلای شو چي نږدې ۵ میلیونه افغانان چي په دایمي توګه غذایي مرستو ته اړتیا لري او د نړیوال خوراکي پروګرام او د ملګرو ملتونو نورې نمایندګی هڅه کوي چي د دوي سره مرسته وکړي. زه هیله کوم چي د ارقامو او په کارولو کې له دقت څخه کار واخلي. دا ډیر حیاتي دي.

**د امریکا غږ:** نن سهار مونږ خبر شو چي یوه بهرنی ښځه په کابل کې ووژله شوه. په دې اړه به د یوناما دریځ څه وي؟

**یوناما:** مونږ هم د دې ریپورټ نه خبر یو چي ګوندي یوه ښځه نن سهار د کابل په ښار کې وژله شوی ده. خو مونږ تر دې دمه پورې په دې اړه نور معلومات نلرو.

**شمشاد تلویزیون**: دا حقیقت چي ۴۲ ٪ افغانان د غربت تر کرښي لاندي ژوند کوي، آیا کله به دا بیوزلی پای ته ورسیږي او ستاسي په فکر باید څه وشي چي هغوي نور تر دې حالت لاندي رانشي؟

**د ملګرو ملتونو د پراختیا اداره:** ډیره ښه پوښتنه- زه فکرکوم هغه څه چي باید زموږ هدف وي دا دی، چي موږ څرنګه کولای شو چي دغه ۴۰ ٪ بیوزلي هر څومره ژر چي امکان وي را کمه کړو؟ اوس نو که چیرې تاسي هغو چانسونو ته وګوري چي غربت په چټکی سره کمه شي، موږ کولای شو د افغانستان ځیني تجربي

هم وکاروو. له ۲۰۰۳ تر ۲۰۰۷ پورې د افغانستان د ودې کچه ښه لوړ وه او هغه د دې له کبله وه چې د بيا رغونې او اقتصادي پراختيا ډير شمير فعاليتونه په جريان کې وو. په کار گومارنه مخ په زياتيدو وه، خو په ۲۰۰۷ او د ۲۰۰۸ په پيل کې يو څه زيانمنه شوې ده. هغه تجربه چې موږ د ساحې پر اساس انکشافي پروګرام يا پروژو او نورو ورته پروژو کې لرو، زه فکر کوم د غربت راکمولو نوښت په واقعي توګه زياتيدای شي که دا په نظر کې ونيسو چې خلک ښکپله چمتو دی، چې د خپلو هڅو په عملي کولو کې مشرتابه په غاړه ولري.

زه قاطع شمير نه شم در کولای چې په څومره کلونو کې به موږ و توانيږو چې دافقر را کم کړو. هغه څه چې زه تاسي ته ويلای شم دا دی، چې د هغو طريقو او نوښتونو سره چې زموږ له تجربو سره او همدارنګه دافغان حکومت د څو تيرو کولنو له تجربو سره په کار لويدلی دي او دی حکومت تجربي تر لاسه کړي دي، په افغانستان کې بيوزلی راکمول امکان لری.

هغه سرعت چې د بيوزلی په راکمولو کې لاس ته راتلای شي، دا يو داسې شی دی چې موږ بايد ډاډمن شو چې کومې زيرمې چې موږ لرو په زياتيدونکې توګه خلکو ته ورسيږي. افغانستان يوه ډيره اميند بخښونکی ستراتيژي لري چې هغه د افغانستان د ملي پراختيا ستراتيژي ده. په هغې کې هدفونه په څرګند ډول ټاکل شوی دی. که د زريزې پراختيايي مرامونو ته وکتل شي هدف دا دی چې غربت په کال کې لږ تر لږه ۳ ٪ راکم شي. که چيرې دا کار وشي نو دا لا د مخه زمږ د پلان سره سم کار شوی. څه چې ما غوښتل و ويام دا و، چې که موږ وکولای شو هغه زيرمې سره رايو ځای کړو چې لا د مخه يې وعده کليوالو ته په کليو کې ورکړی شوی ده، او يا هغه کلی چې په مرکز کې دی، لکه دساحې پر اساس پراختيايي پروګرام چې دا کار کړي دی چې هلته د محلي سطحې په پلانولو باندې او د دغو زيرمو په مديريت باندې، نو د غربت راکمولو سرعت زياتيدای شي.

**ملی راديو تلويزيون:** آيا تاسو کومه عمومي ارزونه ترسره کړې او کوم ولايتونه مو د لومړيتوب پر اساس پيژندلی ترڅو د هغوې ستونزو ته ځواب و واياست، که چيرې ځواب هو وي نو هغه کوم ولايتونه دي.

**د ملګرو ملتونو د پراختيا اداره:** زه به د يو ان ډی پی د سيمو پر بنسټ او نورو پرورګرامونو په هکله يو مثال در کړم. موږ په زياترو ولسواليو کې فعاليت لرو. که څه هم چې موږ ټولو ولايتونو کې حضور لرو، موږ همدارنګه د ځايي چارواکو او ټولنو د ظرفيت سره سم کار کو څو پراختيايي پروژې په غاړه واخلو او کيدای شي دا د هيواد په کچه يو د بل سره توپير وکړي. د سرچينو د برابرولو په حواله، سرچينې د پروژې د يوې برخې په حيث برابرې شوی خو د پيژندل شويو پروژو پر اساس په بيلا بيلو ولسواليو ويشل شوی دی. زه فکر کوم چې دا د ټولو ولايتونو د مسلې سره تړاو لر ي خو په عين حال کې د هغه ظرفيت په اړه چې له مخکې دلته موجود دی هم تړاو لري. موږ نيت لرو چې دا هڅې نورې کړندې کړو ترڅو دغو سيمو ته نورې مرستې ورسيږي، دا هغه څه دی چې موږ يې په راتلونکو مياشتو او کلونو کې د کړو هوډ لرو.